بیایید در اعمار یک

مرکز بزرگ اسلامی

در کابل سهم بگیریم

قرار است بزرگترین مرکز اسلامی دارای یک مرکز تعلیمی ومطبوعاتی در یکی از نقاط مرکزی شهر کابل به ابتکار جمعیت اصلاح افغانستان اعمار ومورد استفاده هموطنان مسلمان ماقرارگیرد.

به اساس یک سروی ابتدایی ساخت واعمار این مرکز اسلامی در پنج منزل که دارای اتاق های برای دفاترمجمع علمی علمای افغانستان، دفتر دعوت وارشاد اسلامی، دفتر برنامه ریزی برای دوره های فهم قران کریم و سالون های برای تدویرسیمینارها، مرکز مطبوعاتی در خور ضرورت وسایر تجهیزات ضروری می باشد، مبلغ یک میلیون دالر امریکایی مصرف بردارد.

هموطنان مسلمان وشهروندان با دیانت کابل اگرمی خواهند با سهم گیری در تعمیر این مرکز بزرگ اسلامی از یک سو زمینه درست را برای فرا گیری علوم اسلامی فرزندان شان مساعد سازند واز سوی دیگربا سهم گیری در این کار خیریه پاداشی برای آخرت خود ذخیره سازند، می توانند از طریق تماس با آدرس های ذیل در این کار خیر سهم بگیرند.

اگر شخصی یا نهاد ی دلچسپی داشته باشد تا قسمتی از این بنا وعمارت بنام اقربا ویا دوستان متوفای آنها نام گذاری شود، یا اینکه می خواهند به حیث اشخاص خیر وگمنام در صدقه جاریه این افراد فوت شده محسوب گردد، می توانند به اداره جمعیت اصلاح افغانستان مراجعه نموده در این کار خیر که فلاح این دنیا وآخرت هردو در آن نهفته است، سهم بگیرند.

برای تفصیلات بیشتر در مورد نحوه این کمک ها وچگونگی دریافت آن توسط اداره جمعیت اصلاح برادران وخواهران مسلمان ما می توانند به آدرس ای میل و شماره های ذیل تماس بگیرند:

وما ذالک علی الله بعزیز.

جمعیت اصلاح افغانستان

Cell : (0093) 079 939 40 15
Phone No : 0093202204122
E-mail : jeafghanistan@gmail.com
Web add : www.eslahonline.net
Bank account : Azizi Bank (000601200133783)
A/C name : Afghan Society for Social Reform and Development
A/C type : USD
Cor Bank : COMMERZ BANK AG FRANKFURT A/C NO :400870106200USD
Cor Bank Swift : COBA DE FF
je-office-burned2

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمني، چهار راهی حاجي محمد داد، سرک ۴، دفتر مر جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵/ ۲۰۲۲۰۴۳۰۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشـ اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابـــــل: شـــهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشـ رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر، ۸۸۷۰۳۰۵

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت نظرمنزل۲دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲ / ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱

ننگرهار: جلال آباد، نارنج باغ، عبدالحق مبنه، (دکابل د موټرو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ټیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

×د شیرین دل پلازې لاندې پوړ، نقیب کتاب پلورنځی. تیلفون ۰۷۰۰۹۵۶۴۲۳/۰۷۷۲۸۲۸۶۴۹

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه(رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي د تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۸۲۷۱ ـ ۰۷۰۰۶۶۸۹۴۸

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۰۷۹۹۴۴۲۹۲۰

هرات: جاده بانک خون، بالا تر از تالار قمر، گذر هشت بهشت، انجمن اخلاق و معرفت تیلیفون: ۰۴۰۲۳۵۵۹۰

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح ۰۷۹۹۶۹۴۲۴۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷ /۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹

لوگر: مرکز، مدینه مارکیت سـرک مسـجد جامع، کتاب فروشـی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محـــمدآغه، واغجان بـــازار، پهلوی کلنیک حســـین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیـــا: د گردیـــز ښار، مرکـــزي چوک، د نـــي نمایـــنـــدگی وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزی طبی لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوی دفتر د اکتر محمد کلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶/ ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: ۰۷۰۰۳۰۱۹۴۸

فراه: جاده مخابرات دست راست مرکز علمی و فرهنگی توحید ۰۷۰۳۲۰۲۰۴۴

کونړ: د معارف ریاست ته مخامخ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر

پیښور: مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان/ تیلفون: ۰۹۱۵۸۵۲۷۹۵

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

سرمقاله

د ښځو نړیواله ورځ

او له افغان ښځوسره دوه ګونی چلند!!

د مارچ اتمه د کب اوولسمه له کلونوکلونو را پدېخواه د ښځو د نړیوالې ورځې په نامه نمانځل کېږي چې د تېرو دولسو کلونو په ترڅ کې په افغانستان کې هم د همدې ورځې په تړاو غونډې، محفلونه او پروګرامونه جوړېږي، چې یو شمېر کړې او شخصیتونه پکې په افغاني ټولنه کې د ښځو د مظلومیت د شعارونو په اوچتولو سره غواړي ځانونه د ښځو تر ټولو نژدې خواخوږي او دهغوی په درد، دردمن ښکاره کړي.

دا کېدای شي یوازې په افغانستان کې هم نه وي، په لویدیزه نړۍ کې چې متأسفانه یو شمېر افغانان له هغې څخه ړوند تقلید یا په هره موضوع او هربحث کې له هغې څخه مثال راوړل، ځان ته تر ټولو ستر ویاړګني، هم همدا معمول دی چې د ښځو د ورځې په غونډو او محفلونو کې له هغوی سره د خواخوږۍ او همدردۍ ډېره پرسینه وهي، خو لکه په هغه پرمخ تللیو ټولنو کې چې د ښځې په وړاندې د تاوتریخ والي اووحشت په را کمولو کې دغه ډول شعارونو اومحفلونو کومه ونډه نده لوبولې، همداسې په افغاني ټولنه کې هم د هغوی څخه په پټو سترګو او یوازې د جامو او فېشن تر بریده تقلید کونکو د دې ټولنې د مظلومې ښځې کومه ستونزه نده هواره ه کړې او نه تردې وروسته کومه تمه شته چې دافغان مېرمنې ستونزې او کړاوونه به حل کړای شي.

پدې کې شك نشته چې افغاني مېرمن د دې ټولنې د یوې سترې برخې په توګه له کلونو کلونو را پدی خوا او په تېره بیا په تېرو څه باندې درېو لسیزو کې له ګڼو ستونزو او ناخوالو سره مخ ده، پر خوار افغان ولس تپل شوې جګړه لکه څه ډول چې د ټولنې نور اړخونه اغېزمن کوي، په همدې ډول یې ښځې هم ترې بې اغېزې نشي پاتې کېدای چې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ تر سقوط وروسته او دلته د امریکا په مشرۍ د نړیوالې ټولنې په نامه د نړۍ د ګڼو هېوادو له پوځي او ملکي مداخلې سره د دوی ستونزې او ناخوالې د دې پرځای چې کمې شي، نورې هم پراخه شوې او بېلابېل نور اړخونه یې هم پیداکړل.

پدې حقیقت سترګې نشو پټولای چې په تېرو دولسو کلونو کې د عام افغان ولس تر څنګ د ښځو او نجونو زده کړې اوتعلیم ته تر یوه بریده پاملرنه وشوه، خو ترڅنګ یې لویدیز پاله اود پردیو کړیو په لمسونه د ښځو د حقوقو تش په نامه مدافعین هم فعال شول اود ښځو د حقونو څخه د دفاع په نامه یې خپل د تجارت دوکانونه پرانیستل.

بل خوا د دولت په کچه هم په تېره یوه لسیزه کې د ښځو اړوند کوم ګامونه چې اوچت شوي دي، هغه تر ډېره بریده په لویو ښارونو او پلازمېنه کابل کې محدود دي، په داسې حال کې چې افغانان ټول د یوه غرنې هېواد د هستوګنو په توګه په لیرې پرتو سیمو کې بلا ستونزې لري چې هم نارینه اوهم ښځینه ټول ترې اغېزمن دي.

په لیرې پرتو سیمو آن په پلازمینه کابل او لویو ښارونو کې هغه ستره غمېزه چې افغان ټولنه په عامه توګه او ښځه په خاصه توګه دهغې له بدو اغېزو او پایلوڅخه په امان نده هغه بدمرغه او تپل شوې جګړه ده چې له تېرو دریو لسیزو را پدیخواه یې د هر افغان پر کور ماتم ګډ کړی دی او نر، ښځه اوماشوم یو هم ترې په امان ندي.

اوس چې یوځل بیا په خوار او جګړه ځپلي افغانستان کې د لویدیزې نړۍ په تقلید د ښځې له نړیوالې ورځې څخه په ګرمو شعارونو او د احساساتو په را پارونکو راپورنوسره نمانځنه وکړي، په کار ده چې په ټولیز ډول پر دې بحث وشي تر څو دهغه بدمرغې او تپل شوې جګړې د درولو غږ هم اوچت شي چې په یقیني ډول د ټولو هغه افغان میرمنو غوښتنه ده چې په تېرو دریو لسیزو کې یې خپل خاوند، اولاد، ورور، خور یا د کورنۍ یو بل غړی د تپل شوې جګړې له برکته له لاسه ورکړی دی. دا اوس ثابته خبره ده چې تر څو جګړه ونه درول شي، نه د ښځې حق خوندي دی او نه د نارینه او دواړه به په یوه ډول دهغې د بدمرغیو او ناخوالو په ګاللو مجبوره وي.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش نشرات و فرهنګی

هفته نامه اصلاح اونیزه

دلسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

www.eslahonline.net

دلیکوال پلاوي تر نظر لاندې

دامتیاز خاوند:

جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان

رئیس هیأت تحریر:

عبدالفتاح جواد

مدیرمسئول:

نقیب الله حمید 0774327438

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

دیزاینر: شاهد صافی

استاد سعدیه حفیظ مسؤول بخش خواهران جمعیت اصلاح افغانستان:

- **بخش خواهران جمعیت اصلاح، همگام با برادران در راستای پخش ونشر فهم اصیل اسلام فعالیت می کند**
- **ما تا آنجا فعالیت نموده ایم که رضامندی زنان کشور را بدست آورده ایم.**
- **قانون منع خشونت علیه زنان،به زهر در آمیخته با عسل می ماند که درظاهر شیرین ولی در حقیقت تلخ وکشنده است.**

یادداشت:عموماً روزهشت مارچ مطابق ۱۷ حوت همه ساله بنام روز جهانی زن درکشورهای جهان ودر یک دهه اخیر در افغانستان نیز تجلیل می شود، اینکه فلسفه این تجلیل از کجا بوجود آمده و چه اندازه مهم است، در رسانه های مختلف روی آن بحث های زیادی صورت گرفته، گروپ رسانه یی اصلاح نیز خواست به مناسبت این روز صحبتی داشته باشد با خواهر فاضله استاد سعدیه حفیظ مسؤول بخش خواهران جمعیت اصلاح که درمورد فعالیت های این بخش وبه صورت عموم در مورد جایگاه زن در جامعه افغانی بین سنت های کهن و سوغات های دیموکراسی غربی توضیحاتی ارائه نموده است که تقدیم خواننده گان ارجمند می گردد.
اداره

مصاحبه : احمدضیاء رحیمزی

اصلاح: یکبار دیگر در آستانه تجلیل از روز جهانی زن قرار داریم،اگر لطف نموده در مورد فعالیت های جمعیت اصلاح که در بخش زنان انجام داده است به خصوص طی یک دوسال گذشته برای ما معلومات دهید!

سعدیه حفیظ: بسم الله الرحمن الرحیم

با عرض سلام خدمت شما و خوانندگان گرامی، در پاسخ به سوال تان باید عرض کنم که جمعیت اصلاح یک نهاد اجتماعی دینی بوده وبه هدف نشرو پخش فهم اصیل اسلام و آوردن تغییر مثبت در جامعه فعالیت می نماید که بخش خواهران یکی از بخشهای مهم آن به شمار می رود و در راستای تحقق اهداف فوق شانه به شانه برادران فعالیت می کند. بخش خواهران جمعیت اصلاح در چهار زون: مرکز، شمال، شرق وغرب کشور فعالیت می نماید. البته فعالیتها در زونهای مختلف با تغییر مدتهای زمانی آغاز یافته است که در مجموع از مدت ده سال تقریبا شروع شده است. فعالیتهای بخش خواهران بیشتر در دو عرصه تربیت وانکشاف مهارتها ودعوت وارشاد (آگاهی دهی عامه) می باشد. از مهمترین فعالیتهای بخش خواهران بخصوص در دو سال گذشته می توان از فعالیتهای ذیل یاد آور شد:

دایر نمودن دوره های تفسیر قرآن کریم، دایر نمودن دوره های فهم قرآن که کوتاه مدت می باشند، کورسهای معارف اسلامی، دوره های سیرت نبوی صلی الله علیه وسلم، به راه اندازی مسابقات علمی در رشته های دینی جهت توسعه فرهنگ مطالعه وبالا بردن سطح علمی خواهران به خصوص نسل جوان، برگزاری نمایشهای کتب، دایر نمودن سیمینارهای علمی وتربیتی، میز گردها، کنفرانسها، دوره های مدیریتی وغیره. التبه بخش خواهران برای اولین بار یک راه پیمایی بزرگی را در میان زنان افغان به مناسبت رد قانون منع خشونت علیه زنان در شهر کابل بهار سال جاری به راه انداخت که با استقبال خوبی مواجه گردید. در پهلوی این برنامه ها، بخش خواهران در جمع آوری کمکهای عاجل به مردم فقیر ومستمند و توزیع آن در موسم های مختلف نیز کوشاست که تا هنوز توانستیم به تعداد زیادی از هموطنان مان کمک نماییم.

همچنان بخش خواهران صفحه انترنتی ای را به نام « زن مسلمان» راه اندازی نموده است تا خواهران افغان مان در سراسر جهان بتوانند از محتویات آن مستفید گردند، وهمچنان فصل نامه ای زیر عنوان « بینه» را نیز این بخش نشر می نمایدکه در روشن کردن اذهان زنان افغان مفید تمام شده است.

درکنار دیگر فعالیتها برنامه های عروسی های اسلامی را نیز ترتیب می دهد تا در روش برگزاری عروسی ها و برنامه های شادیانه تغییر ودگرگونی در روشنی تعالیم اسلام صورت گیرد. گذشته از آن، درتمام برنامه های بزرگی که برادران جمعیت اصلاح ترتیب می دهند و درآن زنان نیز شرکت می داشته باشند همواره بخش خواهران مسؤولیت مدیریت بخش خواهران را به عهده داشته است. باید عرض کنم که در طی سالهای اخیر هزاران تن از خواهران

هموطن مان از برنامه های ما مستفید گردیده همواره خواهان گسترش دادن این نوع برنامه ها در سایر نقاط کشور می باشند.

اصلاح: به نظر شما دلایل محبوبیت فعالیت های شما در بین زنان جامعه افغانی ، با وجود مشکلاتی که از لحاظ اقتصادی و دسترسی به وسایل دارید، چه بوده و کدامین برنامه ها شما را متمایز تر از سایر نهاد های که بنام زنان کار وفعالیت می کنند،ساخته است؟

سعدیه حفیظ: آنچه که فعالیتهای ما را با وصف وجود مشکلات اقتصادی و قلت دسترسی به وسایل وامکانات مادی در جامعه افغانی محبوب گردانیده، بعد از فضل الله متعال درک واقعی نیازمندیهای زن افغان و ارائه پاسخ مناسب برای آنها می باشد. اگرچه آنگونه که بایسته است به آن رسیدگی نشده ولی تا آنجا که فعالیت نموده ایم رضامندی زنان کشور را بدست آورده ایم. به نظر من آنچه که ما را نسبت به سایر نهاد های فعال در عرصه حقوق زن متمایز ساخته است، آن است که ما مشکلات زنان را به زبان خود آنها بیان می داریم و از سویی هم، مشکلات موجود در میان شان را به شکل واقعی و در روشنی فرهنگ ملی موجود در جامعه به بررسی می گیریم نه با افکار واندیشه های وارداتی و گرفته شده از جوامعی که هیچ ارتباط فرهنگی در میان این جامعه و آن جوامع وجود ندارد؛ زیرا ما می دانیم که مشکلات زن افغان با مشکلات جوامع دیگر متفاوت است پس مبارزه با این مشکلات باید بر گرفته از راه حلهایی باشد که در جامعه ما قابل قبول باشند که بخش خواهران جمعیت اصلاح با درک این موضوع بدان پرداخته است.

بخش خواهران برای اولین بار یک راه پیمایی بزرگی را در میان زنان افغان به مناسبت رد قانون منع خشونت علیه زنان در شهر کابل بهار سال جاری به راه انداخت که با استقبال خوبی مواجه گردید. در پهلوی این برنامه ها، بخش خواهران در جمع آوری کمکهای عاجل به مردم فقیر ومستمند و توزیع آن در موسم های مختلف نیز کوشاست که تا هنوز توانستیم به تعداد زیادی از هموطنان مان کمک نماییم.

اصلاح: آنچه رسانه ها طی سالیان گذشته از وضعیت رقت بار زنان درجامعه افغانی وبه خصوص بنام افزایش خشونت علیه زنان به نشر می رسانند، از دیدگاه شما دلایل وعوامل آن درچه نهفته است؟ آیا این گونه واقعات قبلاً وجود نداشتند یا رسانه ها ومردم از آن آگاهی نداشتند؟

سعدیه حفیظ: اگر نگاهی به وضعیت زن درافغانستان انداخته شود حقیقت آن را بر ملا می سازد که جامعه افغانی یک جامعه مرد سالار بوده و زنان از جایگاه واقعی ای که دین مقدس اسلام برایشان ترسیم کرده محروم می باشند. از سوی دیگر آگاهی از اسلام و جایگاه زن در آن در پایین ترین سطح آن قرار دارد، این امر را دشمنان اسلام برجسته نموده شماری از واقعات تلخی را که در جامعه رخ می دهد را دستاویز می سازند و آن را دلیل علیه اسلام قرار می دهند. نا گفته نماند که این نوع واقعات اجتماعی مخصوص جامعه افغانی نیست، یک نگاه ولو گذرا به روند زندگی در دیگر جوامع – چه شرقی وچه غربی- نشان می دهد این نوع مشکلات در تمام جوامع می باشد و با تفاوت در تناسب میان آن جوامع.

دلیل این که این وضعیت در کشور از قبل وجود داشت و اینکه امروزه این موضوع در رسانه ها به شکل بسیار گسترده طرح می شود آن است که در زمان حکومت طالبان زنان به اکثریت حقوق شان دسترسی نداشتند؛ به ویژه درعرصه تعلیم وکار، وزمانی که حکومت آنها سقوط نمود و نظام جدید روی کار آمد، برای جهتهای مغرض واستفاده جو زمینه مناسب برای وارد کردن افکار واندیشه های وارداتی مهیا گردید و در داخل کشور نیز عده ای از مردم غرب گرا فرصت یافتند تا افکار غربی را زیر شعار « دفاع از حقوق زنان، آزادی زن، منع خشونت علیه زن، جندر وامثال آنها» که در ظاهر به نفع زنان ولی در حقیقت ویرانگر برای زندگی اجتماعی آنها شمرده می شود، از طریق رسانه ها ووسائل متعدد دیگر نشر و پخش نمایند تا بدین وسیله بتوانند که به اهداف خویش نزدیک شوند.

اصلاح: طی سالی که روبه اختتام است موضوع قانونی بنام منع خشونت علیه زنان سروصدا های را از پارلمان گرفته تا رسانه ها براه انداخت،به نظر شما این قانون چه امتیازاتی را می تواند به زنان افغان تحفه دهد که به خاطر آن اینقدر سر وصدا براه افتاد؟

سعدیه حفیظ: حامیان قانون منع خشونت علیه زن متشکل از دو گروه مردم می باشند، یکی افراد هدفمند و آگاه از ابعاد این قانون می باشند ودوم افراد نا آگاه و بی خبر از محتویات اصلی آن که زیر تأثیر تبلیغات گسترده برای این قانون، قرار گرفته اند. این دو گروه سروصداهایی را بلند کرده اند.

اگر این قانون را ریشه یابی کنیم و به اصل و اساس آن برسیم این قانون به سلسله کنوانسیون سیدا می باشد که حکومت افغانستان آن را امضا نموده است، بناء این نظام مکلف است تا مطابق آن قرار داد عمل نماید وخواستهای این قرار داد را بر آورده سازد. این قانون جز بی بندوبار نمودن قشر زن، از هم گسستن شیرازه خانواده ها وطغیان زنان علیه مردان و بر هم زدن توازن جامعه دست آورد دیگری در پی نخواهد داشت. این قانون به زهر در آمیخته با عسل می ماند که درظاهر شیرین و خوش آیند و در حقیقت تلخ وکشنده می باشد.

اصلاح: از دیدگاه شما دولت وبه گونه مشخص وزارت امور زنان تا چه حد توانسته طی مدت بیش از یک دهه گذشته برای زنان افغان، مفید ومؤثر بوده و تا کدام حد توانسته از حقوق این قشر مظلوم دفاع نماید؟

سعدیه حفیظ: دولت به ویژه وزارت امور زنان در طی یک دهه گذشته بعضی از دست آوردهای خوب برای زنان داشته اند، مثلا قبل از این زنان در عرصه تعلیم وکار ومشارکت سیاسی اجتماعی کاملا محروم بودند با به صحنه آمدن این نظام دروازه های تعلیم به شکل بسیار وسیع وهمه جانبه به روی زنان باز گردید که زنان می توانند با آزادی کامل در تمام رشته های تحصیلی آموزش بگیرند واز سوی دیگر در عرصه کار ومشارکت سیاسی واجتماعی نیز آزادی های نسبی حاصل کردند که این خود یک دست آورد محسوب می شود. اما دسترسی به این حقوق جهت تغییر وضعیت زن در این جامعه بسنده نیست و تا هنوز زنان افغان به خصوص در روستاها و ولایات دور در مظلومیت بوده به اساسی ترین حقوق شان دسترسی ندارند وهمواره مورد بی مهری وبی حرمتی و ظلم واقع می شوند و برای بهتر شدن وضعیت شان به تلاش بیشتر ولی در روشنی تعالیم اسلام نیاز است.

اصلاح : چه فکر می کنید برای خاتمه دادن به رسم ورواج ها وخشونت های مزخرفی که بنام دین در جامعه سنتی ما علیه زنان اعمال می شوند، باید از کدام راهکارها وبرنامه ها استفاده صورت گیرد؟

سعدیه حفیظ: قبل از همه باید گفت که این رسم ورواجهای حاکم در جامعه سنتی ما از قرنهای متمادی ریشه در زندگی اجتماعی مردم ما داشته است که مبارزه و ریشه کن کردن آن زمان زیادی در بر می گیرد، ولی نا ممکن نیست به شرط این که همه جهات جامعه؛ دولت، همراه با نهاد های اجتماعی، علمای دین، خانواه ها و نهادهای تعلیمی و رسانه ها دست به هم داده و عزم واراده قوی در این راستا مخلصانه گام بردارند و تلاش ورزند تا این بیماریهای ها را ریشه کن سازند. این کار از طریق وضع کردن قوانین مناسب امکان پذیر است که دولت باید مسؤولیت خود را در قبال جامعه ادا کرده با وضع وتطبیق قوانین مناسب اقدام کند، از سوی دیگر، نهادهای اجتماعی و آموزشی برنامه های آگاهی دهی برای مردان وزنان راه اندازی کنند تا زنان از حقوق خویش – که اسلام برای شان قایل شده- آگاه شوند و هم مردان حقوق آنها را دانسته و برای ایشان بدهند.

خانواده باید در دید خود در قبال زن تغییر آورده به همان گونه که به مردان خانواده می نگرند وارج می گذارند به زنان نیز همان گونه بنگرند وارج گذارند، از سوی دیگر، علمای دینی باید مسؤولیت خود را ادا نموده در خلال درسهایی که در مساجد ایراد می کنند ویا از خلال خطبه های جمعه وغیره به این موضوع توجه نشان دهند و موضع اسلام را در این باره روشن سازند.

اصلاح: به حیث آخرین پرسش: پیام تان به زنان، مادران وخواهران ستم دیده افغان که از سه دهه به این سو به گونه مسلسل با جنگ و بدبختی های گوناگون اجتماعی دست وپنجه نرم می کنند، چیست؟

سعدیه حفیظ: پیامم منحیث یک زن به مادران وخواهران افغان آن است که ما امت محمد صلی الله علیه وسلم هستیم که خداوند جل جلاله بر دوش آنها مسؤولیت خیلی بزرگ یعنی رهبری جهان را گذاشته است که در این مسؤولیت ما زنان نیز شریک می باشیم. زنان سلف این مسؤلیت را درک نموده و در ادای این مسؤولیت نقش سازده بازی نموده به فرزندان خود نیز این درس را آموختاندند، از همین رو، مسلمانان دوازده قرن جهان را رهبری نمودند. اما زمانی که تمسک به دین ضعیف گردید این احساس کم رنگ گردید تا اینکه این مسؤلیت از اذهان مردان وزنان ما فراموش گردید ودیگران آن را بر دوش گرفتند که متأسفانه هیچ سعادتی را برای بشر به ارمغان نیاوردند. به فضل الله متعال وبا بیداری اسلامی درجهان اسلام، این احساس بار دیگر زنده گردیده و وقت آن رسیده که زنان افغان لباس غفلت را به دور افگنده خود را با لباس بیداری آراسته نمایند و وقت آن رسیده است تا خواهران مان جهت آوردن تغییر مثبت درزندگی فردی واجتماعی خود دست به کار گردند. باید گفت هرگاه تغییر در افکار وارد گردد عملکردها نیز تغییر می نمایند وهرگاه زنان ما افکار خویش را تغییر داده خود را به دید کم ننگریسته و قشر ضعیف وناتوان جامعه ندانند بلکه شریک مردان درساختن جامعه بپندارند همانگونه که زنان در عصر پیامبر و عصور نزدیک بدان عضو فعال جامعه بوده ونقش فعال خویش را بازی می نمودند، در راستای فهم اصیل دین تلاش ورزند وبا استفاده وسائل مختلف سمعی وبصری و کتب ونشرات، خود را در پهلوی آگاهی دینی، از اوضاع جهان به خصوص جهان اسلام آگاه سازند، یقین دارم که از یک سو از جهل دینی که اساس مشکلات ما است بیرون آمده و از سوی دیگر، فریب افکار بیگانه وشعار های وارداتی میان تهی را نمی خورند، وبه حیث زنان هدفمند در ساختار زندگی موفقانه خود وساختار جامعه سعادتمند تلاش ورزند تا از این وضعیت نا بسامان موفقانه بدر آیند. و در آخر کلام خود را با سخن خلیفه عادل اسلام عمر بن خطاب رضی الله عنه به پایان می برم:« نحن قوم أعزنا الله بالاسلام مهما ابتغینا العزة فی غیره أذلنا الله»(ما مردمی هستیم که الله متعال ما را با اسلام عزت بخشیده است وهر گاه که عزت را در غیر اسلام جستجو کنیم، الله ما را ذلیل می گرداند).

وهرگاه زنان ما افکار خویش را تغییر داده خود را به دید کم ننگریسته و قشر ضعیف وناتوان جامعه ندانند بلکه شریک مردان درساختن جامعه بپندارند همانگونه که زنان در عصر پیامبر و عصور نزدیک بدان عضو فعال جامعه بوده ونقش فعال خویش را بازی می نمودند، در راستای فهم اصیل دین تلاش ورزند وبا استفاده وسائل مختلف سمعی وبصری و کتب ونشرات، خود را در پهلوی آگاهی دینی، از اوضاع جهان به خصوص جهان اسلام آگاه سازند، یقین دارم که از یک سو از جهل دینی که اساس مشکلات ما است بیرون آمده و از سوی دیگر، فریب افکار بیگانه وشعار های وارداتی میان تهی را نمی خورند،

د پاکستاني طالبانو

اودهغه ځای د حکومت اوربند او پر افغان جګړه یې اغېزې!

اصلاح رسنیز ګروپ: حکمت الله ځلاند

پاکستاني طالبانو څو ورځې مخکې د پاکستان له حکومت سره د سولې د خبرو اترو د بیا پیلېدلو په موخه، د یوې میاشتې لپاره اوربند اعلان کړ.

د پاکستاني طالبانو ویاند شاهدالله شاهد وویل، چې دا اوربند یې د دیني عالمانو په غوښتنه او د پاکستان له دولت سره د سولې د خبرو اترو ، د بیا پیلېدلو په موخه، چې د پاکستان د ملکي دولت په غوښتنه پیل شوې وې اعلان کړی دی.

طالبانو د پاکستان له دولت څخه غوښتي ترڅو د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د بریدونو د بندېدلو، د شمالي وزیرستان له قبایلي سیمو د پاکستان د پوځ د وتلو، د دغې ډلې د غړو د خوشي کولو او د اسلامي شریعت د پلي کېدلو په اړه د دوی غوښتنې ومني.

د پاکستان ددولت او پاکستاني طالبانو د استازو تر منځ د سولې خبرې اترې وروسته له هغه ودرېدې، چې طالبانو د پوځ ۲۳ تنه بندي سرتېري ووژل.

دا چې د پاکستان د طالبانو تحریک تل ویلي، چې جنګیالي یې د افغان طالبانو د مشر ملا محمد عمر د اوامرو پیروي کوي او د دغو دوو ډلو تر منځ کوم توپیر نشته دی، نو ځکه اوس داسې اندېښنې هم شته دي، چې پاکستاني طالبان به هم افغانستان ته مخه کړي او په پاکستان کې د اوربند ټینګېدل به په افغانستان کې ناامنۍ زیاتې کړي، آیا دا اندېښنې تر کومه پر ځای دي؟

د دې ترڅنګ پاکستاني طالبان د دغه هېواد له حکومت سره په داسې حال کې خبرو اترو ته چمتو کېږي، چې تر منځ یې بې باوري ډېره زیاته وه؛ نو آیا د افغانستان حکومت هم نه شي کولای چې له ورته لاړو چارو کار واخلي او له خپلو وسله والو مخالفینو سره سوله او روغه جوړه وکړي؟ دا او ځینې نورې پوښتنې مو د سیاسي چارو له شنونکو پوښتلې دي.

د سولې خبرو ته د پاکستاني طالبانو د حاضرېدلو دلیل څه ؤ؟

دا چې د پاکستان حکومت څرنګه وکړای شول، چې خپلو وسله والو مخالفینو ته د سولې خبرو اترو د کېناستلو قناعت ورکړي؟ د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو د کمیسیون غړی او د خاتم النبیین پوهنتون رئیس عبدالقیوم سجادي یې لامل د نوازشریف واک ته رسېدل بولي.

عبدالقیوم سجادي وایي: «د نوازاشریف له واک ته رسېدلو وروسته د پاکستان د حکومت او پاکستاني اسلام پالو د نژدې کېدلو زمینې برابرې شوې او د امریکا او لوېدیځ د سیاستونو په اړه د اسلام آباد ځینو غبرګونونو، په یو ډول د پاکستاني طالبانو پام ځان ته وراړولی دی.»

د ده په وینا، د پاکستان د خلکو افکار او هلته عمومي ذهنیت هم د پاکستاني طالبانو د بریدونو پر وړاندې منفي شوی او دې چارې هم د پاکستان د حکومت او پاکستاني طالبانو په نژدې کولو کې رول درلودلی دی.

د افغانستان د اوسني حکومت دوره پای ته رسېدلې ده؛ خو د راتلونکي ولسمشر په کاري لومړیتوبونو کې باید د افغان دولت له وسله والو مخالفینو سره د تفاهم او خبرو اترو د لارو چارو لټول او د بین الافغاني جګړې مخنیوی ځای ولري؛ (دکتورفضل الهادی وزین)

خو لیکوال او د سیاسي چارو شنونکی وحید مژده بیا په دې نظر دی، چې که څه هم په پاکستان کې ځینو لورو پر پوځي عملیاتو ټینګار درلود؛ خو طالبان هم پوهېدل چې پاکستان د اقتصادي ستونزو له امله د دغه کار توان نه لري او همدا لامل ؤ، چې دواړه لوري دې پایلې ته ورسېدل چې پوځي عملیات د دواړو لورو په ګټه نه دي او په لومړي ګام کې یې یوې میاشتې اوربند اعلان وکړ.

نوموړي زیاتوي: «پاکستاني طالبانو دا هم درک کړه، چې ځینې نور لاسونه هم د دوی د بدنامولو لپاره هلته کار کوي؛ نو ځکه یې هڅه وکړه، ترڅو دا وښیي چې په ټولو تاوتریخوالیو کې هم دوی لاس نه لري.»

د سلام پوهنتون استاد او د سیاسي چارو شنونکی دوکتور فضل الهادي وزین هم په ورته نظر دی او وایي، چې د پاکستان حکومت او پاکستاني چارواکو دا درک کړه، چې د دغه هېواد پایښت، ثبات، امنیت او اقتصادي وده او پرمختګ په ټول کې له دې سره تړلي، چې په هېواد کې یې شخړې او جګړې پای ته ورسېږي.

ښاغلي وزین زیاته کړه: «اوس دوی دې پایلې او قناعت ته رسېدلي، چې د پاکستان جګړه نظامي حل نه لري او په دغه هېواد کې شته امنیتي ستونزې یوازې او یوازې د خبرو اترو له لارې حل کېدای شي.»

خو نوموړی تر ټولو مهمه بیا دا ګڼي، چې د پاکستان حکومت له خپلو وسله والو مخالفینو سره تفاهم او روغې جوړې ته د لارې هوارېدلو یو اصلي دلیل دا ؤ، چې د پاکستان حکومت له پاکستاني طالبانو سره د منځګړیتوب لپاره داسې کسان وټاکل، چې تر ډېره حکومتي کسان نه دي او په یو ډول د حکومت او طالبانو تر منځ په بې پلوۍ مشهور دي، چې له همدې امله هغوی په پاکستان د جګړې یو لوری نه بلل کېږي او

طالبانو یې هم تر ډېره داسې کسان انتخاب کړل، چې په جګړه کې ښکېل نه دي او تر ډېره بې طرفه دي، خو په عین حال کې د طالبانو د باور وړ خلك هم دي.

افغان حکومت ولې خپل وسله وال مخالفین سولې ته نشي حاضرولی؟

که څه هم د افغانستان حکومت ظاهراً له تېرو څو کلونو راهیسې د سولې د ټینګښت هڅې پیل کړې دي او په همدې موخه یې د سولې عالي شورا هم جوړه کړې ده؛ خو تر اوسه یې په دې برخه کې کوم د پام وړ کار نه دی کړی؛ نو آیا افغان حکومت نشي کولای له هماغو لاړو چارو کار واخلي، چې پاکستان ترې کار واخېست؟

دوکتور فضل الهادي وزین په دې اړه وایي: «افغانستان هم باید په پاکستان کې د خبرو اترو له پیلېدلو درس واخلي او لکه څرنګه چې پاکستان له پاکستاني طالبانو سره ډېرې جګړې کړې ډېرې مرګ ژوبلې یې تر منځ اوښتې دي؛ خو بیا هم د سولې خبرو اترو ته کېني، نو افغانستان هم باید داسې لاړې چارې ولټوي، چې له خپلو وسله والو مخالفینو سره یې روغې جوړې ته لار هواره شي.»

نوموړی زیاتوي، چې "دا چې د افغانستان د اوسني حکومت دوره پای ته رسېدلې ده؛ خو د راتلونکي ولسمشر په کاري لومړیتوبونو کې باید د افغان دولت له وسله والو مخالفینو سره د تفاهم او خبرو اترو د لاړو چارو لټول او د بین الافغاني جګړې مخنیوی ځای ولري؛ ځکه د جګړې دوام پر هر ډول پرمختګ سیوری غوړوي او د ښوونې او روزنې، بیارغونې او نورو ټولو برخو اهمیت راکموي او هرڅه ګواښوي؛ ځکه نو د افغانستان حکومت باید د رښتینې سولې د ټینګښت لپاره داسې لاړې چارې ولټوي او د داسې منځګړو لورو او کسانو په لټه کې شي، چې هغوی د دولت د وسله والو مخالفینو او حکومت تر منځ باور جوړونه وکړای شي."

خو ښاغلی وحید مژده یې بیا دا دلیل په بل څه کې ګوري او وایي، چې د افغانستان او پاکستان د شرایطو تر منځ څرګند توپیر شته دی.

نوموړی وایي: «دپاکستان ستونزه تر ډېره بریده داخلي ده؛ په پاکستان کې بهرني ځواکونه نشته دي او پاکستانیان په خپل منځ کې خبرې اترې کوي؛ خو په افغانستان کې بیا طالبان په لومړي ګام کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتونکي دي.»

د ده په خبره، له همدې امله ترڅو چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه ونه وځي، د افغانستان د حکومت او وسله والو مخالفینو تر منځ روغه جوړه ناشونې برېښي.

آیا د پاکستاني طالبانو اوربند به په افغانستان کې ناامنۍ زیاتې کړي؟

ځینې کسان ګومان کوي، چې د پاکستاني طالبانو او د پاکستان د حکومت تر منځ جوړجاړی او اوربند به په افغانستان کې جګړې نورې هم پراخې کړي، ښاغلی مژده تر یوې کچې دا اندېښنه پر ځای بولي.

نوموړی وایي: «کله چې په قبایلي سیمو کې بمبارۍ ودرېږي او په پاکستان کې جګړه نه وي، نو کېدای پاکستاني طالبان له افغان طالبانو سره په جګړه کې برخه واخلي ځکه پاکستاني طالبان په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور پر وړاندې جګړه هم خپله جګړه بولي؛ له همدې امله تر دا خبره مطرح ده چې په افغانستان کې جګړه په پاکستان کې د سولې په معنا ده او که په پاکستان کې سوله راځي په افغانستان کې جګړه سختېږي.»

د ده په وینا، له همدې امله دا ستونزه د یوه ځانګړې هېواد نه ده؛ بلکې دا ستونزه د سیمې په کچه ده او باید د سولې خبرې اترې د ډیورنډ کرښې په دواړو غاړو کې ترسره شي او ترڅو چې د افغانستان ستونزه هواره نه شي، په پاکستان کې به هم دایمي سوله ټینګه نه شي.

دوکتور عبدالقیوم سجادي هم په دې نظر دی، چې هرڅومره چې په پاکستان کې د جګړې زمینه کمېږي، په افغانستان کې به جګړه زور اخلي.

خو ښاغلی فضل الهادي وزین بیا دا اندېښنه بې ځایه بولي او وایي، چې په پاکستان کې د ثبات او امنیت راتګ پر افغانستان او ټوله سیمه مثبت اغېز درلودلای شي.

دوکتور وزین زیاتوي: «باامنه او باثباته افغانستان د پاکستان په ګټه دی او په افغانستان کې ناامنۍ او بې ثباتي پر پاکستان هم اغېز کوي، په همدې ترتیب په پاکستان کې ناامنۍ او بې ثباتي پر افغانستان اغېز لري او همدا راز په پاکستان کې امنیت او ټیکاو هم د افغانستان پر امنیت اغېز کوي؛ کله چې د پاکستان حکومت د دغه هېواد په ټولو سیمو کنټرول ولري، نو پاکستان بیا کولای شي چې له افغانستان سره په تفاهم هغه سیمې کنټرول کړي، له کومو چې د افغانستان خاورې ته د جګړې لپاره کسان رالېږل کېږي، خو کله چې ناامني وي او حکومت پر کومه سیمه واك ونه لري، کېدای شي چې جګړه دې لورې ته راولېږدول شي او د پاکستان حکومت به هم وایي، چې موږ په دې سیمه کنټرول نه لرو.»

د جګړې د دوام اصلي ګټه چا ته رسېږي؟

په افغانستان او پاکستان کې روانو جګړو دغه دواړه هېوادونه د پام وړ ستونزو سره مخ کړي دي؛ نو پوښتنه دا ده، چې د جګړې د دوام اصلي ګټه چا ته رسېږي؟

ښاغلی وزین په دې اړه وایي: «په افغانستان، پاکستان او ټوله سیمه کې د جګړې د دوام ګټه، د دغو سیمو ملتونو ته نه؛ بلکې نورو ته رسېږي او هغه قوتونه چې پر نړۍ د واکمنۍ خوب ویني، هغوی له دغې جګړې ګټه پورته کوي»دوکتور سجادي هم په ورته نظر دی او وایي، چې له دغې جګړې هغه لوري ګټه پورته کوي، چې په افغانستان، پاکستان او سیمه کې ثبات نه غواړي او دغه جګړې خپل سیاسي نفوذ ته د زمینې برابرول ګڼي.

ښاغلی عبدالقیوم سجادي وایي: «تر کومه چې د غرب ګټې په دغو جګړو کې نغښتې وي، دوام به کوي؛ مګر دا چې په افغانستان او پاکستان کې کوم وینې ملتونه په دې اړه څه ګامونه اوچت کړي.»

(پنځمه برخه)

اخوان المسلمین؛ پرون، نن، سبا

سیدالرحمان عمران

مصر د همدې او نورو ځانګړنو په درلودو سره تل په سیمه او له سیمې ور پورته د نړۍ سترو قدرتونو ته د سیاسي معادلې د یو ځانګړي او اساسي عنصر په توګه پاتې شویدی، لکه که کوم زبر ځواک او یا هم سیمه ایز قوت غواړي چې په منځني او عربي نړۍ کې اغیز ته د ځان په ګټه بدلون ور کړي نو د دې کار لپاره په مصر کار کوي او دغه هېواد د ځان په لوري را کاږي، که مو پام کړی وي څو میاشتې مخکې امریکا په مصر کې د پوځیانو لخوا د خلکو د شهیدانولو او زنداني کولو له امله هسې په غولونکي توګه مصری حکومت ته لږه ګوتخنډنه وکړه، ور سره سم مصري پوځي چارواکي د امریکا د ډارولو لپاره مسکو ته لاړل او له روسیې سره یې د اړیکو جوړولو لپاره سفرونه وکړل چې د روسیې لخوا ورته تود هرکلی وویل شو. مانا دا چې روسیې ته هم په سیمه کې د مصر په څېر د شریکبانې سخته اړتیا ده.

له بله اړخه د تاریخ په اوږدو کې مصر دداسې هېواد په توګه پاتې شویدی چې بدلونونه یې ډېر ژر ټولې سیمې ته غزیدلي دي، هر بدلون چې په مصر کې راغلی په چټکۍ یې د هغه ګاونډیان او په ټوله کې عربي نړۍ تر خپل اغېز لاندې راوستې. کله چې د عربو پسرلي تر نامه پاڅونونه پیل شول عربي هېوادونه سخت په ډار کې شول او تر وسه وسه یې هڅه و کړه چې ددې پاڅونونو مخه و نیسي او داسې ستونزې ورته رامخې ته کړي چې پاڅون ناکام او د ملتونو په زیان و ښیي خو خبره هغه مهال له کنټروله وتې وه. وروسته چې په مصر او نورو هېوادونو کې انتخابات و شول او ترمخه یې اسلامي ګوندونه په ځانګړي ډول اخوانیان واك ته ورسېدل دا وېره څو چنده شوه او په ګډه یې هڅې پیل کړې چې یاد انتخابي حکومتونه را و پر ځوي، د العربیه خبري اژانس د راپور ترمخه د اماراتو پادشاه ویلي چې هغه په مصر کې د اخوان المسلمین د حکومت له راتلو سره سم پدې پوهېده چې دا حکومت به تر یوه کال ډېر دوام و نکړي یعنې په یوه ډول پدې اقرار کوي چې په مصر کې د مرسي حکومت را پرځول اصلا د لویدیځ په مرسته د هغوی په ملاتړ له پیله جوړه شوې دسیسه وه. عربي هېوادونه پوهېږي چې په مصر کې د هر ډول او بیا په خاصه د اسلامي ګوندونو حکومت را مخې ته کېدل ورته باالقوه خطرونه متوجه کولی شي، خطر یې دادی چې هلته خلکو ته د آزادۍ او خپلواکۍ احساس لېږدولی شي چې په پایله کې یې په خلکو کې د هغوی د استبدادي شاهي لاسپوڅو نظامونو د پرځولو نظر خپرولی شي. دا مخالفت تر دې ژور دی چې یادو هېوادونه نه یوازې په مصر کې په کلکه د پوځي چارواکو تر شا ولاړ دي بلکې د هغو نورو هېوادونو پر وړاندې هم کلك دریځ لري چې په مصر کې د انتخابي خپلواك حکومت غوښتونکي دي. دد ې لړۍ په تازه پرمختګونو کې سعودي عربستان، امارت او بحرین له قطر نه خپل سفیران د اعتراض په توګه را و غوښتل او نوموړی هېواد یې د اخوان المسلمین په پلوی تورن کړ او ور سره یې دا ګوتخنډنه هم و کړه چې که قطر د مصر په اړه په خپل نظر کې بدلون را نه ولي هغوی به یې د خلیجي هېوادونو د همکاریو له سازمان څخه و باسي.

اسراییلو ته د مصر ارزښت:

مصر په افریقایي وچه او هم عربو کې تر ټولو ډېر شمېر منظم پوځیان لري چې د نړۍ په کچه لسم لوی پوځ لرونکی هېواد دی. مصر د ۴۸۰ زره ځواکونو او ۹۰۰زره ذخیره پوځ په لرلو د نړۍ له ستر پوځ لرونکو هېوادونو څخه شمېرل کېږي. لکه مخکې چې مو یاده کړه همدې پوځ څو ځله له اسراییلو سره جګړه کړې چې په هر ځل یې اسراییلو ته لوی سر خوړی جوړ کړیدی چې په پای کې د امریکا په وساطت د مصر حکومت او اسراییلو ترمنځ د کمپ ډیویډ تړون لاسلیك شو، دا تړون چې د مصري ولسمشر انور سادات د حکومت پر مهال له اسراییلو سره لاسلیك شو تر مخه یې د مصر پښې او لاسونه و تړل شول او امریکا او اسراییلو ته لکه تړلی چرګ په لاس ورغی. له اسراییلو سره د پرله پسې جګړو او بریاوو له امله یاد پوځ په خپل ولس کې سخت محبوبیت تر لاسه کړی دی. چون د داسې منظم پوځ او تجهیزاتو درلودل تل اسراییلو او ورسره متحدینو ته یې د اندیښنې وړ دی نو ځکه هغوی په وارو وارو هڅه کړې چې پوځ له خپلو خلکو سره واچوي تر څو نه یوازې په ولس کې یې محبوبیت را ټیټ شي بلکې له بلې خوا د پوځ اوسني تشکیلاتو هم له خنډ او ځنډ سره مخامخ شي.

د کمپ ډیویډ تړون څخه مخکې اسراییلو د خپل خالصو عایداتو ۲۳ سلنه په دفاعي چارو لګوله چې د یاد تړون څخه وروسته د دفاعي چارو بودیجه یې ۹ سلنو ته را ټیټه کړه. امریکا او اسراییل پدې پوهېږي چې که په مصر کې د اخوان حکومت پاتې شي ښایي یاده معاهده فسخه کړي چې لدې سره اسراییلو ته داسې سرخوړی جوړولی شي چې په هېڅ بیه به یې قیمت اداء نکړل شي. .له بل لوري مصر له فلسطین سره ګډه پوله لري چې دا هم اسراییلو ته یوه حیاتي موضوع ده ځکه که په مصر کې داسې حکومت راځي چې له اسراییلو سره ښې دوستانه اړیکې و نلري او یا هم مذهبي ریښې و لري، نه یوازې فلسطیني جهادي ډلو ته یو ډاډمن ملګری دی بلکې ور سره ښه مرسته کولی شي، پناه ځایونه ور ته برابرولی شي او تر ټولو مهمه دا چې اسراییلو ته په یوه بنسټیز ګواښ بدلیدلی شي. که دا و نکړي لږ تر لږه ورته یو ډاډمن مرکز خو ګرځېدی شي او په روحي لحاظ خو یې مورال ښه لوړولی شي.له همدې امله هم دی چې اسراییل او متحدین یې تل په مصر نظر لري، مرستې ور سره کوي او هڅه کوي د خلکو له حمایت نه محروم داسې کس د واك په ګدۍ کېنوي چې لومړی خو پوځي وي او دوهم د لویدیځ او اسراییلو ګټو ته د ولس تر ګټو ور پورته ژمن وي.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

گلبرگهای ادب

آیا یکی از اینها را هم انجام داده نمیتوانی؟

از ابوذر رضی الله عنه منقول است که: از رسول خدا ص پرسیدم چه چیزی بنده را از آتش می‌رهاند؟
گفت: ایمان به خدا.
گفتم: آیا عملی همراه ایمان وجود ندارد؟
گفت: این عمل وجود دارد که از آنچه خدا موهبت نموده است، بخشش کنی.
گفتم: یا رسول‌الله، اگر آدمی تهیدست بود و چیزی برای دادن نداشت؟
گفت: امر به معروف و نهی از منکر کند.
گفتم: اگر توانائی امر به معروف و نهی از منکر نداشت...؟
گفت: فرد ناواردی را کمک نماید (یعنی کسی را که کاری بلد نیست، صنعتی بیاموزد.
گفتم: یا رسول‌الله اگر در کاری مهارت نداشت چطور؟
فرمود: مظلومی را یاری کند.
گفتم: یا رسول‌الله اگر ضعیف بود و قدرت یاری مظلوم را نداشت چه؟
گفت: آیا نمی‌خواهی رفیقت را نصیحت کنی که از آزار مردم خودداری کند؟
گفتم: ای رسول خدا، اگر چنین کند، به بهشت می‌رود؟
فرمود: هیچ مؤمنی دارای یکی از این خصوصیات پیدا نمی‌شود مگر آن که همان خصیصه دستش را گرفته وارد بهشتش می‌سازد»
(روایت از بیهقی و لفظ حدیث هم از اوست.)

آیا این امانت را قبول کرده میتوانید؟

رسول‌خداص ابوذر غفاری ﷺ را این چنین نصیحت نموده‌اند که: (و إنّها أمانةٌ و إنّها یوم القیامةِ خزیٌ و ندامةٌ إلاّ مَن أخذها بحقّها) 1یعنی:« امارت، امانتی است. و روز قیامت سبب رسوایی و ندامت می گردد (و تنها امیری رسوا و پشیمان نمی گردد که) امارت را به بحق بگیرد و حق امارت را ادا نماید» در روایت دیگری آمده است: (و إنّه مَن یکن أمیراً فإنّه أطول النّاسِ حساباً و أغلظهم عذاباً و مَن لا یکن أمیراً فإنّه من أیسر النّاسِ حساباً و أهونهم عذاباً) یعنی: «هر کس امیر باشد، روز قیامت حسابش بیش از دیگران طول می کشد و بیش‌تر و شدیدتر از آنان عذاب می گردد و هر کس امیر نباشد، آسان‌تر از دیگران از او حساب گرفته می‌شود و عذابش نیز سبک‌تر است.
(از کتاب: ابوبکر، نویسنده: دکتور علی صلابی)

اي فراریان درگاه خداوند!

ای فراریان درگاه خداوند، وقت آن رسیده است که به آستان خداوند بازگردید. و ای غافلان از سرای آخرت، وقت آن است که بیدار گردید و ای بی‌خبران از مرگ، وقت آن است که به خود آیید. و ای مست‌شدگان از محبت دنیا، وقت آن است که به هوش آیید. و ای غوطه‌وران در دریای معاصی، وقت آن است که توبه کنید و به درگاه خداوند بازگردید، و ای ... توبه کنید. قبل از آنکه باب توبه بسته شود. اینکه باب توبه نیز بر کسی مفتوح است، فرصت را غنیمت شمرید که مبادا فرصت از دست رود و عمر شما ضایع و تباه گردد.
(از کتاب توبه، دکتور یوسف قرضاوی)

ده چیز که از دست می دهیم

ترجمه: وحیدالله عزیزی

1. علم ما: بخاطر مفید نیست که بی عمل است.
2. اعمال ما: بخاطر مفید نیستند که بدون صداقت بوده و با ریا همراه اند.
3. ثروت ما: در چیزهای ضایع میشود که برای ما اجر نخواهد داشت، ما پول، مقام و توانایی خود را در چیزهایی به مصرف میرسانم که هیچ فایده در دنیا و آخرت برای ما ندارد.
4. قلوب ما: بخاطر از دست رفته اند که از محبت خداوند خالی اند، و بعوض احساس اشتیاق و محبت او تعالی، توسط محبت چیز های بیهوده پرشده اند.
5. بدن های ما: بخاطری ضایع میشوند آنها را در عبادت و رضای خداوند استفاده نمیکنیم.
6. محبت ما: بخاطر منحرف است، که به طرف الله نبوده بلکه با اشیا و اشخاص دیگر است.
7. وقت ما: بخاطر مفید نیست، که بطور شایسته از آن استفاده نشده است تا گذشته ما را تلافی نماید و آینده ما را تضمین کند.
8. عقل ما: در موضوعات ضایع شده است که برای ما سودمند نیستند، موضوعات که نه برای فرد ما مفید است نه برای جامعه ما و هیچ فایده عملی بر آن مرتب نیست.
9. خدمت ما: خدمت ما برای کسی وقف شده است که او نه ما را به خداوند نزدیک میکند و نه در دنیا برای ما نفع رسانده میتواند.
10. ذکرما: بخاطر مفید نیست که نه بر خود ما اثر دارد نه در قلبهای ما.

اړیکې: habibi@eslahonline.net

ومعلوماتي

رسول الله صلی الله علیه وسلم او نور پیغمبران

که موسی علیه الصلاة والسلام د اوبو سمندر څېرې کړ؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د زړونو سمندرونه څېرې کړل او تاریخ ته یې داسې لویان ور وپېژندل چې نومونه یې د تل لپاره ژوندي دي. که الله تعالی د یوشع علیه السلام لپاره لمر له ډوبېدو وروسته بیا را پورته کړ؛ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وسیله یې دنیا ته داسې لمر ور وباښه چې هېڅکله نه پرېوځي او که عیسی علیه السلام مړي را ژوندي کول او بیا بېرته مړه کېدل؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم امتونو ته داسې ژوند ور وباښه چې له هغې وروسته یې مرګ ونه لید...

(له ژونده می دا زده کړل له کتاب څخه)

پام چې دوکه دې نکړي!

پام چې د زاهد اوښکې دې دوکه نکړي، کېدای شي د دنیا د له لاسه ورکولو له امله وي، پام چې د ظالم خندا دې دوکه نکړي، کېدای شي ستا په غاړه کې د پړي اچولو له امله وي، پام چې د خائن په سوله دوکه نشې، کېدای شي په تا کې د نفوذ کولو لپاره وي، حال دا چې ته به چمتو نه وې او پام چې د ښځې په ژړا دوکه نشې، ځکه کېدای شي پر تا د برلاسۍ لپاره وي!

(دکتور مصطفی سباعی)

هم مور او هم پردۍ مزدوره

اوسنۍ زمانه کې ځینې خلک په دې باور دي، چې له سختې اړتیا پرته ښځه د پردۍ مزدورۍ او کار کولو ته وهڅوي او وظیفه لرونکې مېرمن باندې ویاړي، په داسې حال کې چې اولادونه یې بې تربیې لویېږي، له غرب څخه د کاپي کولو پر اساس دا یو جاهلي رواج جوړ شوی دی لکه څنګه چې به د نجلۍ مور او پلار د هلک د کار پوښتنه کوله اوس هلکان هم د نجلۍ د کار پوښتنه کوي او په دې توګه غواړي په راتلونکي کې هم د خپلې مېرمنې حیاء او عفت و لوټي او هم په خپلو ناصالحو اولادونو ټولنه برباد کړي، هغوی چې غواړي په مختلط سیستم کې ښځې او سړي په یوه ځای کې اختلاط وکړي او هر ډول بې بندوباري آزاده او د مېرمنې د یو څو روپیو مزد د ترلاسه کولو لپاره له هر چا سره د اړیکو آزادي او له هرډول پوښتنو آزاده وي، په داسې حالت کې دې هم ښځې او هم خاوندان د یوې سترې تباهۍ منتظر وي، چې چاره یې بیا د یو کس او دوه کسانو په وژلو هم امکان نه لري.

یوه ورځ به رسوا شي

په ژنګه درته وصیت کوم، چې د خپل وخت له ضایع کولو، په ګناه کې د غرقېدو، د مبتذلو فلمونو او سریالونو له کتلو، د موسیقۍ او همدا ډول بدو اشعارو (د جنسي او معاشقې) او دلذت لرونکو مباحو کارونو څخه ځانونه په کلکه وساتې، ځکه دې کارونو په ډېرښت سره د ځینو کسانو حق تلف کړې او هم له سړي واجبات باتې کېږي، د انسان نفس کمزوری او الله تعالی ناراضه کوي، وخت ضایع کوي او د انسان مال او ابرو نه سخته صدمه رسوي، نو ځکه له الله تعالی څخه په ښکاره او پټه توګه وویرېږئ هغه په هر ځای کې حاضر او ناظر وګڼئ، ځکه که تاسو یې هر څومره پټ هم وکړئ، یا به دا خپل د بدن غړي درباندې داسې راشي چې الله تعالی به هغه ټول را ښکاره کړي، بیا به دا خپل د بدن غړي درباندې شاهدي وایي.(دکتور عائض القرنی)

حقیقت آزادی در اسلام

شیخ محمد البنا

منظورم از کلمه‌ی آزدی در این مقاله آن نوع آزادی نیست که اسلام به امت‌ها و ملت‌ها ارزانی داشته است؛ آنان را از اسارت طاغوتیان رها کرده و برایشان قانونی غیر از قانون قدرت و غلبه وضع داده است که در سایه‌ی آن زندگی کنند؛ چرا که سخن در این بخش به درازا می‌انجامد و باید در جای خود به طور جداگانه‌ای بررسی و حق مطلب درباره‌ی آن ادا شود. در این‌جا منظورم آزادی فردی است که از ابتکارات اسلام محسوب می‌شود.

